# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



د وطن زوی


۰۷ می ۲۰۱۵

## کندهار دبدلون په درشل کی

ښکلی کندهارچی له کلونو راهیسی دجګړی په اورکی سوزی، اوپه تیرو ۳۷ کلونو کی ترټولو ډیرپه مردکو لګیدلی اوسوری سوری دی. اوس اوس بیا دحوادثو اواوښتونو ډګرګرځیدلی. انګریزی استعمار اودهغی ځای ناستی(کړغیرن پاکستان) همیشه کندهار ته غاښونه چیچی! دافغان –انګلیس ددوهمی جګړی(۱۸۸۱-۱۸۷۹) په پای کی هم انګریزانو غوښتل چی کندهارله افغانستان څخه بیل اوپه برتانوی هند پوری یی وتړی. په داسی حال کی چی انګریزان له ټول هیواد شړل شوی و، اوپه کابل کی یی ځواک امیرعبدالرحمن خان ته ایله کړی و، ولی د۱۰۰ ورځو لپاره یی کندهار له مرکزی حکومت څخه جلا وساتی. ترڅودغازی محمد ایوب خان لښکری له هراته دکندهار دژغورلو لپاره راودانګل او دمیوند په تاریخی ډګرکی انګریزانو ته غاښ ماتونکی ماتی ورکړه اودمیرمن ملالی حماسه هم په همدی ډګرکی وزیږیده.

دعینی شاهدانو اودسیمی دخلکودسترګو لیدلی حال دی چی دناټو دیرغل څخه وروسته انګریزی ځواکونو په میوند کی وروسته له اشغاله دشپی ښادنامی او داورونو بلکی وکړی اوداسی یی وښوده چی : مونږ بیا راغلی یو!!کټ مټ لکه دلومړی نړیوالی جګړی په پای کی چی بیت المقدس فرانسویانو ونیو، نوفرانسوی عسکرودصلاح الدین ایوبی قبر په لغتو وواهه(مونږبیاراغلو). هوکی هیوادوالو دوی بیا راغلی اوداځل یی حشر هم له ځان سره راوستی اودتکفیر اوتکفین سلفی-اخوانی فلسفه هم ورسره مل ده، چړی اوملا یی هم مل دی! انګریزانوپه هغی وخت کی په غالب ګومان خپلی وسلی اونوری شتمنی په سیمه کی په زیارتونو کی پټی کړی وی؟ ځکه دوړلو امکانات یی له ځمکنی لاری ممکن نه و اوله بلی خوا دوی دتیښتی په حال کی و. اوس دانګریزی باستان شناسانو لخواپه کندهاراوټولو ولایتونو کی زیارتونه اودغسی ځایونه کالبد شکافی شوی اوپلټل شوی دی، هیواد وال دداسی پلټونوشاهدان دی، دمیوند دجګړی میدان چی دمیرمن ملالی قبر هم هلته دی او دسته جمعی قبرونه هم شته دانګریزانو لخوا په پوره ډول تلاشی شوی دی اوکندنی یی پکی کړی.

دکندهار امنیه قومندان عبدالرازق چی په قوم اڅکزی اودبولدک دسرحدی ځواکونو مشرو له پنځو کلونوپه کندهار پادشاهی کوی(اوښه یی هم کوی). دده تره قومندان منصور نومیده اوځواکمن سړی و، نومړی دشوروویانو په وخت کی خپل ځواک درلود چی نه دنجیب اداری ته اونه هم دمجاهدینوحکومت تسلیم شو، اوپه خپل زوراوځواک دبولدک په غرونوکی اوسیده.

دطالبانو دراتګ په درشل کی کرنیل امام ، خالد اوځینی نورکندهارته راغلل ترڅو دوی دطالبانو ملاتړ ته وهڅوی؟ قومندان منصورپه کلکه درد ځواب ورکوی اوحتی له دوی څخه افغانستان ته دویزی پوښتنه هم کوی چی ولی زمونږ

هیواد ته پرته له ویزی راننوزی؟ امام ورته وایی چی تاسوخومونږ جوړکړی یاست او اوس زمونږ څخه دویزی پوښتنه کوی؟؟ نوهمداو چی دطالبانو په راتګ سره منصور له ډیری جګړی وروسته پرته له تسلیمیدو، پخپله ځان په منفجره موادو الوزوی اوبیا طالبانو دده مړی په دارکړ.

قومندان رازق چی په هغی وخت کی تنکی هلک ودخپل اکا، کورنی اوتیرتباهی دپاکستانیانو په لاسونو په خپلو سترګوولیده. نوموړی په لوموړی سرکی دبولدک دسرحدی لواء قومندان و، اوهمالته ده خپله پوځی وړتیا اوله پاکستان سره خپله دوښمنی په زباد ورسوله او پوله یی کلکه کړه، اوکله نا کله خوبه یی دپاکستان په خاوره کی هم په طالبانو پسی زغستل اونیول به یی.

قومندان رازق له پنځوکلونو راپدی خوا دکندهار دامنیی قومندان دنده ترسره کوی، دی نه یوازی دامنیی قوماندان بلکی دټول کندهار ټولواک اواختیارداره دی. له احمدولی کرزی را وروسته قومندان رازق دکندهار مطلق العنانه دی. نوموړی طالبان ډیر کمزوری کړل اودکندهارله ښاراونورو ولسوالیو یی پاک کړل. له غلو سره هم دده چلند ډیرجدی دی! دی غل اوطالب جیل ته نه استوی اوځای پرځای یی وژنی. اوهیڅ قومندان اوزورواکی دده سره دمخامخ کیدو توان نلری. نوموړی اکثرا په موټوسایکل اوپه چریکی ډول ګرزی راګرزی. دکندهار خلک دامنیت په ټینګیدو کی دده ونډه ستایی اوتری خوشحاله دی. ددی ترڅنګ عبدالرازق دزابل، هلمند، ارزګان اوفراه ولایتونو سره هم پوځی مرسته کوی. دګل آغاشیرزی اونورو نامسولو وسلوالوڅخه یی وسلی راټولی کړی اوخلع سلاح یی کړل، په کندهارکی ترننه د رازق په مخکی څوک نشی دریدلای.

ولی؟؟؟ اوس داسی ښکاری چی دده دبخت اوتخت ستوری مخ په لویدو دی؟ مستعمراتی اداری د«عجیب» او«غریب» په مشری امنیتی ترون(دخرڅلاوترون) په دوهمه ورځ لاسلیک کړ، اودپاکستانی جنرالانو سره یی ناسته ولاړه توده کړه، اودافغانستان دستنونزی دحل لپاره انګریزی-پاکستانی-سعودی- وهابی-اخوانی طرح راوړاندی کړه. ددی طرحی پربنیاد به افغانستان دپاکستان یوه اقتصادی-دیپلوماتیکه مستعمره وی، اوټول پاکستان ضد اوانګریز ضد عناصر به له واکه شړل کیږی.

قومندان رازق چی وړمه ورځ دغبرګ عبدالله لخوادنوی ګومارل شوی والی دپیژنداوی په غونډه کی خبری کولی، په ډیر غریو اونیولی ژغ وویل:(مونږ دی په پنجابیانو نه پلوری؟ که موجرم کړی وی نوهمدلته مو دی په داروځړوی! زمونږډیرځوانان یی ځرولی چی مونږ هغوی ته رسی هم نشو کولای! ولی پنجابیانو ته نه تسلیمیږو!دوی دسولی په بدل کی زما، دعطا اونورو دوژلوغوښتنه کړی، اوزه ثبوتونه هم لرم؟؟) هوکی هیوادوالو: رازق خپله چاړه په اوبوکی وینی! وایی پردی کټ ترنیمو شپو وی! دبل په ځواک واک چلول اوخلک وژل یوه ورځ خپله دسړی سرخوری.

د رازق دخبرو تصدیق په تیروڅو اونیو کی په کندهار، زابل اوهلمندکی دطالبانو بی ساری پرمختګ دی. په داتیره یوه میاشت کی دکندهار په ښارکی تر۱۵کسانوپوری دولتی چاروکی په رڼا ورځ دښار په منځ کی ویشتل شوی، پوځل چی دملی امنیت ځارنوال و هم تیره اونی ۲۰۰ متره له خپل ریاست څخه لیری په سرپه کلکوف وویشتل شو، اوویشتونکو په دوهم ځلورلاری کی دښادنامی رسام ډزی هم وکړی. دلشکرګاه- دو راهی لاره په کامله توګه دطالبانوپه ولکه کی ده ، دبوجونو پوستی چی په سرپی سپین بیرغونه رپیږی دلاری پر سرولاړی دی، همدارنګه دمیوند ولسوالی ته په زرګونو جنګیالی رااستول شوی، په فراه اوزابل کی هم په درز جګړه روانه ده. رازق چی د هندی-شوروی هغی پروژی مدیرو، چی دسړی جګړی په وخت کی جوړه شوی وه، اوموخه یی په پاکستان کی دبلوڅو، پښتنو اونوروبیلتون غوښتونکو ډلوسره مرسته اوحتی په پاکستان کی دچاودنو ترسره کول هم و، داسد خالد له وخته چی دکندهار پادشاه و، تراوسه دبختی لمسیان اونورپه کندهاربښارکی اطاقونه لری. رازق به هرومرو ددی پروژی چی اوس دړنګیدو په حال

کی ده، قربانی شی!! ځکه (غنی) دخپل اوښ مهاردانګریزپه امردپنجاب په خره پسی وتاړه، اوټولو پاکستان ضدکړیوته به دراندہ ګوزارونه ورکړی.